د کابل مجلې څخه

گڼه ۱۵۳ - مخ ۱۴ - قوس ۱۳۲۲ - ډسمبر ۱۹۴۳

# سپین غر

## (۸)

ښاغلي محمد رسول خان قندهاري

سپینو زرو کلا ښکاري　　　د آسمان و کنارو ته
سور افق دی اوربل کړی　　　د کلا و د هوا لو ته
دآسمان توري لښکري　　　گرد چاپیر ئې و لمبو ته
خدازده څوك دي په کلا کښې چه دوهرې سودا نشته
مستانه پر حصار ښوري ته وا هیڅ ئې پروا نشته

دا د سپینو زرو غر دی　　　چه د نورو څخه اوچت دی
ښه و گړي یکښې اوسي　　　د څښتن پاندی رحمت دی
په یو واله سره ژوند کړي　　　رمز د عشق کښې ئې وحدت دی
دغه ځای دی د پاکانو هیڅو دلته ریا نشته
په هر کور کښې بیغمي ده چرته شور و غوغا نشته

سپین غر ندی قلندر دی　　　دلته ناست په سر تور سر دی
مستجابه ئې دعا ده　　　د خاوندی پاندی نظر دی
هیڅ آفت پرې اثر نکړی　　　د فولاد ولې ټټر دی
تسخیر کړی ئې زمریان دي په ځنگله کښې غر میهار دی
په میراته ئې روزلی خدای ورکړی اقتدار دی

دآسمان د زړه توته ده　　　را لوېده پر مځکه
د عبرت په ستر گو گوري　　　ځکه شوله پرملا ټیکه
سپین نقاب ئې پر سر کش کړ　　　د حیا شوه و چه کلکه
دا د شرم خولې دروې چه رودونه ترېړ وان دي
پر لمن ئې گلان شنه دي بلبلان یکښې نالان دي

يا وقار د ښښتا نه دى		دا ګلي غونډه نمونه ده
متانت ئې دى ساتلى		په عمر و داني خاصه ده
وريخ تلورته زاري کړي		د خندا ئي فريفته ده

د هيبت څخه لړزيږي دا آسمان چه تکهار کړي
اشرفۍ باندې نثار کړي د برېښنا چه برې ګذار کړي

يا نهنګ د شنه دريابه		بربو تلى دى پر مځکه
مرغلرې ئې راوړه دي		د خپل ځان سره پېشکه
يا ښامار دى راوتلى		پروت د غار و خوله ته ځنګه

د آسمان خزانې ساتي له پرغله د انسان
چه په طمع ئې ور نشي ګټه وکړي يا تاوان

دا سپين غردى د زمريانو		يا انګړ د پښتنو دى
چه لمر هره ورځ ترې لوېږي		دغه بام زموږ د پلرو دى
يا آسمان لور په ودکړي		قهرمان د ننګيالو دى

د آسمان لور هره شپه وي په سپين مخ دده به ګور کي
چه پلو له مخه وا خلي پر امنو ئې نور خپور کي